# په افغانستان کې دامریکا ،دناټواود ایساف دځواکونو په شته والی کې زموږپه ګران هیوادکې تاوتریخوالی اوکړکیچ مخ پرزیاتیدو دی :

دعزیزاحمد خوارمل لیکنه

په داسې حال کې چې دامریکا نوی جمهور رئیس بارک اوباما دافغانستان او پاکستان کړکیچ اوامنیتی حالت یې دخپل بهرنی سیاست لومړیتوب اعلان کړی ،په افغانستان کې د خونړیو تاوتریخوالو زیاتیدل دامریکا د سیاسي او پوځي ټولنو اندیښنې اوانګیرنی یې رامنځته کړیدی .
په افغانستان کې دامریکایي ځواکونوقوماندان *پیت جانسن* وویل :دسږکال دهوادموسم د ښه کیدو سره په دغه هیواد کــې دترهګرو یرغــلونه هم دجنورۍ اوهم دفبرورۍ په دووتیرومیاشتو په بهیرکې کې دیرش فیصده( ۳۰٪ )زیاتوالی یې درلود .اوهمدارنګه په عین حال کې دافغانستان دامنیتی حالاتوپه اړه دکاناډا لومړي وزیر *استفن هارپر* هم په دې وروستیوکې وویل، بهرنیځواکونه په افغانستان کې نه بریالي کیږي .
که څه هم دلمړی وزیر دغه څرګندونې دناټو دجګپوړوچارواکو دحیرانتیا سبب وګرځیدی خو په کاناډا کې دغه پوښتنه مطرح اورامنځته کیږي ، که لومړي وزیر *استفن هاپر* په حقیقت کې باوري دی چې په ا فغانستان کې نه بریالي کیږي ،نوبیاولې په افغانستان کې د کاناډاډپوځي شتون پرسر ټینګار کوي ؟ .

که څه هم دکاناډا حکومت د ناټودغیر اروپايي هیواد په توګه یې هڅه کړې چې په افغانستان کې د امریکا سره په ملګرتیا کې په دې سازمان کې دامریکا د موقعیت د کمزورتیا خنډونه ګرځې چې اوسمهال سیاستونه یې د ناټو داروپايي غړیوهیوادونو د نیوکو سره مخامخ سویدي .
سربیره پردی خو داهسې ښکاري چې دکاناډا حکومت هم دې نتیجې ته رسید لی چې په افغانستان کې دامریکا سیاستونه نور نو ددغه هیواد وناامنیو او وکړکیچ ته ځواب نه سي ورکولي.
د۲۰۰۹ م کال د پیله څخه راپه دی خواپه افغانستان کې دنا امنیو دزیاتیدو په اړه د امریکا دپوځي قوماندانانو څرګندونې د دې کبله دغور وړ ګرځیدلی د ي چې امریکا او دناټو اروپايي هیوادونه هڅه کوي چې دافغانستان په اړه یوبل نړیوال کنفرانس رامنځته کړی او پرانیزی .
دهمدې کبله په افغانستان کې دامریکا پر سیاستونوګوتنیونکي هیوادونه ،او حتی دامریکا ځینې پوځي قوماندانان هڅه کوي چې ددغه هیواد دنوي حکومت وجګپوړی چارواکوته قناعت ورکــړي چې دافغانستان اوسنی کــړکیچ اوکشالـــه یوازی دپوځي لاری حل کیدی نه سي او په ا فغانستان کې دپوځي ځواکونودزیاتولو پروګرام هم ددغه هیوادستونزې نه سي کولای چې دمنځه یوسي .
امریکا کابو( ۸ ) اته کاله وړاندې د هغه چارواوکړنو په وړاندی په مبارزې کې چې دترهګرو ډلو فعالیتونه بلل کیدل،پر دغه هیوادباندی یې یرغل وکړاودطالبانوواکداری ته یې دپای ټکې کښیښود،مګرڅه موده وروسته دطالب وسلوال ډلی بیا سمبال سول جنګ جګړی مخ پرډېریدوسو،غلچکی اودځانمرګی یرغلونه په پراخه ډول سره رامنځته سول دافغانستان ددولت دملی اردو اودملی پولیسوپرځواکونواودامریکایی اوناټواوایساف پرځواکونوباندی خونړی یرغلونه زیات سول .
خوسربیره پردادونی کورنۍ اوبهرنۍ ځواکونوباندی تردا اوسه پوری نړیوالو نه یواځې ددغو ډلو ، دله منځه وړل یې ولید بلکی په دی ډول په افغانستان کې دترهه ګرو ډلو بیرته رامنځته کیدل یې په خپلو سترګوسره وینی چې دغه کړنی همدا اوس د ناامنیو دزیاتیدو سبب ګرځېدلی دي .
دهمدې کبله په ا فغانستان کې په سلوکې ددیرش فیصده( ۳۰ ٪ ) دتاوتریخوالی دزیاتوالی په اړه دپیت جانسن څرګندونې ترهرڅه زیات په دغه هیوادکې دامریکا دماتې اودناکامی ښکارندوی دي .

امریکا اوناټو اوسمهال کابواتیا(۸۰) زره پوځي ځواکونه په افغانستان کې لري چې امریکا دغه کمیت اوستروا‌ک اوپه مډرونووسایلوسمبال ځواکونه د ناامنیوپه وړاندی په مبارزه اوجګړه کې لړشمیر بولي ،د همدې کبله بارک اوباما امروکړ چې( ۱۷ ) اولس زره نور سربازان و افغانستان ته ولیږی ،خو دناټو غړیو هیوادونه په دی هیواد کې دنوروپوځي ځواکونود زیاتیدو سره مخالف دي .

دسیمی دسیاسي چارودڅیرونکو په باور دافغانستان ریالستیک واقعیتونه څرګنده وي چې ددغه هیواد دکړکیچ اوداوسنی کشالې حل تر هر څه زیات په افغانستان کې د امریکا اودناټودغړیوهیوادونودغلطو سیاستونواواستراتیژی و بدلون او اصلاح ته ا ړتیا لري .
ځکه چې دزیاتوملکي اوغیروسلوالوخلکو وژنه ،دمخدره موادواونشه ایزو توکو قاچاق،او دترهګرو ډلو بیرته رامنځته کیدل په افغانستان کې د ناټو اود امریکا د پوځي شتون ددوام پایلې اودافغان اولس بی ځایه زوره ونی ،پرخپل سردکورونوتلاشی ،دقومی مشرانوکشولواوبیول ،اویو شمیر نوری چاری دی چې دافغانستان اکثریت خلک او اولسونه دبهرنی ځواکونوددی کړنوڅخه راضی ندی ناراضه دی اوحتی پرضددي نوله دی تولوستونزو څخه څرګندیږی چې دافغانستان په چاروکې اوپه سیمیزو چاروکې سیاسي کارپوهانواوڅیرونکی په ښکاره اوبربنده توګه سره وایی که داوباما دولت د امریکا اوسنی سیاستونه اوپالیسی دافغانستان دریالستیکو واقعیتونو سره سم یومتناسب بدلون رامنځته نه کړي ، دافغانستان هیوادبه دامریکا دپاره یوبل ویتنام وي ،اوامریکایي ځواکونو اوسربازانوته افغانستان به بیا د شوروي دسره پوځ دځواکونو دبرخلک تکرارول وي اولکه دشوروی ماته به دامریکا اودهغه دملګروماته په دی هیواد کې دذهنه څخه لرې نه وي .

### *دافغانستان په هکله دنیویارک تایمزپه یوه لیکنه کې*

### *نیټه: ۲۰۰۹,۳,۸*

## نیوریارک تایمز ولیکل : دامریکا جمهورئیس بارک اوباماد

## افغانستان په جګړه کې دخپل هیواد پرماتی اوناکامی باندی اقراروکړ:

**دانټرنیټ دفارسی سرچینوڅخه**

**ژباړونکی:عزیزاحمدخوارمل**


د امریکا ولسمشر بارک اوباما د نیویارك ټایمز دورځپاڼي سره د یوې مرکې په ترڅ کې وویل چې په افغانستان کې امریکایي ځواکونه دمخالفینوسره په جګړه کې د دی هیواد امنیتی حالت د عراق په پرتله ډیر پیچلی دی

**دامریکا جمهوررئیس** بارک اوباما په دی مرکي کې دافغانستان په جګړه کې دخپل ځواکونوپرماتی او ناکامۍ باندی اقراروکړاود منځ لارو طا لبانوسره دخبرو اترو اوپخلاکیدودپاره دطالبانوڅخه یې بلنه وکړ .
نوموړي وویل که څه هم امریکایي ځواکونو په عراق کې په بریالی توګه وسني مذهبه وسله والو ډلوته یې قناعت ور کړ، کوم چې د القاعدې سره یې ګډه مبارزه کوله، خو په افغانستان کې زیات قومونه خپل ځانګړي دریځونه لري ،په دی اړه ځینو امریکایي چارواکیو وړاندیز وکړ چې امریکا باید د ځینو طالبانو سره خبرې اترې وکړي . دامریکا جمهورئیس بارک اوباما په دې هکله وویل :که څه هم دغه فرصت شته، خو د افغانستان امنیتی حالت لا هم ډیر پیچلی دی .

جمهور رئیس اوباما دافغانستان دحالاتو ویجاړی اواوسنی ناامنی یې ،ددغه هیواد په دولت پورې وتړل اوتړاویې ورکړاوپه دی هکله بیایې وویل :دافغانستان امنیتی حالات ډېرویجاړ دی ځکه چې افغان دولت د خلکو داعتماد په را جلبولو کې ناکامه سویدی .
د امریکا جمهور رئیس بارك اوباما وویل : په افغانستان كي امريكايی مېشت پوځي جنرالان په دې هڅه كي دي چي په طالبانوكې داهسي كسان ومومي چي د افغانستان ددولت سره وخبراتړواودسولی وبهير ته تيار وي .
ولسمشر بارك اوباما وايي چي د دې كړنواودكار دسيستم څخه په عراق كي هم كار اخيستل سوی دی، اودوي وكولای سوای چې منځلاري مخالفين يې د القاعدې د سخت دريځو ډلوڅخه يې جلا كړل او دعراق ددولت سره يې وسولي ته وهڅول .
دامريكا جمهورئيس بارك اوباما په دی اړه وايی، دامريكا دولت خپل دنوی پالیسی اودلړ لیدله مخی دافغانستان ددولت او دمنځلارو طالبانو ترمنځ د خبراتروډبهير ملاتړ كوي.
تر دې مخكې د افغانستان ولسمشركرزی او د ناټو مشر هم له طالبانو سره د خبرو اترو ملاتړ كړی وو، خو دا لومړی ځل دی چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما په ښکاره توګه د منځلارو طالبانو سره د خبرو موضوع مطرح کوي .
همدارنګه په دی هکله دطالبانو دوسله والو ډلی ویاند، دافغانستان د ولسمشرحامدکرزي د خوا د سولي غوښتنی اوپخلاینی وړاندیزته یی غوږ ځواب ورکړیدی، اوطالبان وایی ترڅو چي بهرني ځواکونه په افغانستان کې وي، دوي دافغان حکومت سره خبري نه کوي .

برسېره پر دې، دامریکا ولسمشر بارک اوباما باور څرګند کړ چې په افغانستان کې امریکایي ځواکونه د دی هیواد څخه طالبان لیری کولای سي او په دغه هېواد کې روغې جوړې تر سره کېدای سي .

## د امریکا د جمهور رئیس مرستیال دبروکسیل په غونده کې د ناټوو غړیوهیوادونوته یې په ټینګه وویل :




د امریکا د متحده ایالاتونو د جمهور رئیس مرستیال جو بایډن دناټوو غړیوهیوادونو ته د۲۰۰۹ م کال دمارچ دمیاشتی پرلسمه (۱۰,۳,۲۰۰۹)باندی وویل په افغانستان کی مخ په ویجاړیدونکی امنیتی حالت د ناټو د هر غړی هیواد امنیت دګواښ سره مخامخ کوي .
بایډن په بروکسیل کې د ناټو د( ۲۶ )شپږویشتوغړیو هیوادونو د استازو غونډی ته د وینا په مهال په ټینګه سره وویل : افراطی بنسټ پال یو ځل بیا په افغانستان او پاکستان کی ځانونه سمبالوی : ددغه ځایه القاعده او بنسټ پال متحدین یی یو ځل بیا د نړی د خلکو ، د افغانستان، پاکستان، هند ، متحده ایالاتونو ، اروپا او استرالیا پر ضد د نویو بی رحمیو دپاره ځانونه سمبالوی .
د امریکا د جمهور رئیس مرستیال زیاته کړه : واشنګټن غواړي د سیمی څخه د ترهګرود ګواښونو د لیری کولو په کار کې د خپلو اروپایی متحدینو سره د نړدی څخه کار وکړی .
ده وویل :جمهور رییس بارک اوباما د افغانستان پراستراتیژی اوپالیسی باندی د سره غور کوی . ده افغانستان ته د نورو ۱۷ زرو سربازانو د استلو امر کړی دی اود اروپایی متحدینو څخه هم غواړي چې ودی هیواد ته دی نور ځواکونه واستوی ./

*رابرت گیتس:* آمریکا در افغانستان شکست خورده است
*۲۲ اسفند ۱۳۸۷ ۲۱:۲۳*

به گزارش شبکه خبر به نقل از خبرگزاری فرانسه،رابرت گیتس در مصاحبه باشبکه تلویزیونی پی بی اس امریکا تاکید کرد : راه حل بحران افغانستان و پایان تنش در این کشور سیاسی است
.
وی مصالحه آمریکا را با طالبان ممکن دانست .
جو بایدن معاون رئیس جمهوری آمریکا نیز دو روز پیش در نشست شورای ناتو گفت : برای برقراری آرامش در افغانستان دست دراز کردن به سوی طالبان ارزش امتحان کردن را دارد.
سخنان مقامات آمریکایی در حالی مطرح می شود که اروپا نیز پس از شش سال اشغال افغانستان با افزایش نظامیان این اتحادیه در این کشور مخالفت کرد